مجلهٔ علمی- تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
https://jss.edu.af

# د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د پانګونې د خطرونو مدیریت

پوهنوال دکتور خواجه محمد عصامي

د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ، د شرعیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان
برېښنلیک: khuwajahmuhammad@gmail.com

**لنډیز**

دا څېړنه په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ په سکتور کې د خطرونو مدیریت ته یوه ژوره کتنه کوي. تحقیق د وصفي او تحلیلي میتودونو په کارونې سره هغه خطرونه مشخصوي چې اسلامي بانکونو ته په داخلي او بهرنۍ کچو کې متوجه دي. څېړنه د اسلامي بانکدارۍ پر مرابحه، مشارکت، او مضاربت تمرکز کوي. د خطرونو د مدیریت موجود میکانیزمونه تحلیل شوي او د تطبیق اغېزمنتوب یې ارزول شوی دی، چې د اسلامي شریعت له اصولو سره سم د خطرونو اغېز راټیټ او د مالي فعالیتونو ثبات زیات شي. پایلې او تګلارې یې د خطرونو مدیریت لا مثبت اغېزمنوي، د عایداتو کچه لوړوي، او د اسلامي پانګونې هڅونه رامنځته کوي. په نهایت کې د افغانستان اقتصادي ستونزې د عملي حل لارو په مرسته په مؤثره توګه حلیږي.

**آرويپونه:** پانګونه؛ خطرونه؛ مدیریت؛ ګټه؛ تاوان؛ بانکوالي؛ اسلامي؛ سود او ربا

# Risk Control Mechanisms in Islamic Banking Investments in Afghanistan

**Khuwajah Muhammad Esumi**

Department of Islamic Culture, Faculty of Sharia, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: khuwajahmuhammad@gmail.com

**Abstract**

This study provides an in-depth examination of risk management in the Islamic banking sector in Afghanistan. The research employs both descriptive and analytical methods to accurately identify, explore, and analyze the risks that Islamic banks face at both domestic and international levels. It specifically focuses on the contracts used in Islamic banking in Afghanistan, such as Murabaha, Musharakah, Mudarabah, and other similar financial contracts. The study analyzes the existing mechanisms for risk management and evaluates their implementation to reduce the impact of risks in accordance with Islamic Sharia principles, thereby enhancing the stability of financial activities. The researchers clarify the findings and strategies that can make risk management more effective, increase the level of participation and returns in Islamic investments, reduce the level of losses and risks, and broadly stimulate Islamic investment. Ultimately, practical solutions are proposed to effectively address Afghanistan's economic challenges, facilitating the circulation of liquid assets and promoting economic development.

**Keywords:** Investment; Risks; Management; Profit; Loss; Banking; Islamic; Interest Usury.

**ارجاع:** عصامی، خ. م. (۱۴۰۳). د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د پانګونې د خطرونو مدیریت. *ژورنال علوم اجتماعی-پوهنتون کابل* ۷(۲). ۶۹-۹۰. https://jss.edu.af/jss/article/view/36

**سریزه**

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه.أما بعد

اسلامي بانکوالي د اوسنۍ اقتصادي نړۍ یوه بنسټي او پرمختللی برخه ده، چې د پانګونې او تمویل په برخو کې پاموړ رول لري. دا نظام د ګټې پر ځای د شریعت د اصولو پر اساس اقتصادي فعالیتونه تنظیموي، چې د ټولنیز او اقتصادي عدالت لپاره ځانګړي اصول لري. د ۲۰۰۸م کال د نغدو پیسو د بحران په نتیجه کې، اسلامي بانکوالۍ د خپل رأس المال او فائدې پاموړ ساتنه وکړه، چې دا حالت ورته د نړیوال اقتصادي مارکیټ د پام وړاوښتو لامل شو. اسلامي بانکوالي د پانګونې او تمویل په نظام کې ځانګړی حیثیت لري، چې د شریعت پر اصولو ولاړه ده. په دې سیستم کې پانګونه او تمویل یوازې د حلالې او مشروع سوداګرۍ په چوکاټ کې ترسره کېږي او د ملکیت، حقیقي او یا هم حکمي قبض پر اصولو یې ټینګار کېږي. دا اصول د پانګونې او تمویل د خطرونه د ښه مدیریت لپاره اړین دي، چې اقتصادي فعالیتونه په ټولنه کې مثبت بدلون او پرمختګ رامنځته کړي، بېوزلي او بیکاري راکمه کړي، او د ټولنې غړي له ښه ژوند او ارامۍ څخه برخمن کړي.

اسلامي بانکوالي یوه نوې او عصري اقتصادي موضوع ده چې په عربي او انګریزي ژبو کې پرېپراخ علمي بحثونه، څېړنې، او تحقیقات شوي دي. پر دې سربېره د اسلامي بانکوالۍ د پانګونې د خطرونو د مدیریت اړوند په پښتو ژبه کې تر اوسه کومه علمي او مؤثقه څېړنه په افغانستان کې نه ده شوې، د اسلامي بانکوالۍ د ځانګې په ځانګړې توګه د خطرونو د مدیریت لپاره مهمه اړتیا لیدل کېږي. دا څېړنه د دې هدف لپاره ده چې د خطرونو دقیق تحلیل او مؤثر مدیریت وړاندې کړي، چې اسلامي بانکوالي وده او پرمختګ ومومي.

لاندې د یو څو کتابونو او څېړونو یادونه په نمونه یې ډول کوو؛ چې زمونږ د څېړنې تفاوت او ارزښت معلوم شي.

Edward Elgar دا کتاب (Islamic Finance: Principles and Practice" by Hans Visser) Publishing په لومړي ځل کال ۲۰۰۹ کې چاپ کړی دی؛ هانس ویزر په دې کتاب کې د اسلامي تمویل اصول او د خطرونو مدیریت په اړه عمومي خبرې او بحث کړی دی.

دا کتاب بیا (Risk Management for Islamic Banks" by Imam ahyudi and Abduh Muhamed Wiley په لومړي ځل ۲۰۱۳ کې چاپ کړی او مصنفینو یې چې عبارت دي له امام وحدي او عبدو محمد دوئ دواړو په دې کتاب کې د اسلامي بانکونو خطرونو ته عمومي ځانګړې پاملرنه کړې ده.

(Islamic Financial Risk Management: Global Perspectives" by Muhamed Zulkhibri and Abdul Ghafar Ismail) دا کتاب بیا د محمد ذوالخِبری او عبدالغفار اسماعیل دي چې په لومړي

Springerپه ۲۰۱۹ کې چاپ کړی دی، په دې کتاب کې د اسلامي مالي خطرونو نړیوال اړخونه څېړل شوي دي؛ نه په اسلامي بانکوالۍ کې د یوه معین هېواد مالي خطرونه.
د څېړونکي د څېړنې تفاوت له پورته څېړونو سره دا دی چې محقق د پانګونې خطرونه په فقهي او اقتصادي لحاظ د افغانستان په محوطه کې څېړلي او د خطرونو د مدیریت لپاره یې مشخص وړاندیزونه کړي؛ چې له یوې خوا پانګونه مؤثره تمامه شي او له بلې خوا خطرونه په ښه توګه مدیریت شي.

اسلامي بانکوالي د پانګونې او اقتصادي ځېښناک(استثمار) په برخه کې له بېلابېلو کورنیو او بهرنیو خطرونو سره مخ ده. د دې خطرونو د اغېزمن مدیریت لپاره اړینه ده چې پانګونه او ځېښناک(استثمار) په مثبت اقتصادي پرمختګ بدل شي. د خطرونو لاملونه او د دوی د مدیریت طریقې د دې څېړنې بنسټي موضوع ګڼل کېږي، چې هر اړخیزه تحلیل او څېړنه پرې شوې ده.

**د څېړنې پوښتنې**

***اصلي پوښتنې***

۱. د افغانستان د اسلامي بانکوالۍ په سکټور کې د خطرونو د اغېزمن مدیریت لپاره څرنګه میکانېزمونه او تګلارې وکارول شي چې مالي ثبات او پایښت تضمین کړي؟
۲. د افغانستان اسلامي بانکوالۍ له کومو خطرونو سره مخ ده او سرچینې یې څه دي؟
۳. د افغانستان په اسلامي بانکونو کې د خطرونو د مدیریت لپاره کوم میکانیزمونه او ستراتیژۍ کارېږي او اغېز یې څومره دی؟
٤. په افغانستان کې د خطرونو د مدیریت لپاره له اسلامي شریعت سره سم کومې نوې تګلارې او میتودونه وړاندیزېدای شي؟
۵. په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د خطرونو پېژندنه او تحلیل څه اقتصادي ارزښت لري؟
٦. د اسلامي بانکوالۍ په سکتور کې د خطرونو د مدیریت میکانیزمونه د افغانستان په ځانګړیو اقتصادي او ټولنیز شرایطو کې څرنګه تطبیقولای شو؟

***فرعي پوښتنې***

۱. په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د اوسني وضعیت او ځانګړنو تحلیل څه ښیي؟
۲. په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ تاریخچه او د نورو اسلامي هېوادونو پرتله یې پرمختیا څه ډول ده؟
۳. په افغانستان کې د اسلامي بانکونو فعالیتونه له شریعت سره د نه توافق، سیالۍ او په بازار کې د بدلونونو له خطره څرنګه اغېزمن دي؟

٤. د افغانستان په بانکوالۍ کې د خطرونو د مدیریت لپاره اوسني میکانیزمونه بسنه کوي؟
٥. د افغانستان اسلامي بانکونه پر نړیوالو معیارونو برابر دي او که نه، کومو اصلاحاتو ته اړتیا لري؟
٦. د خطرونو د مدیریت په برخه کې د اصلاحاتو او تګلارو وړاندیزونه د افغانستان په بانکوالۍ کې څه اقتصادي ارزښت لري؟

**څېړندود**

په دې څېړنه کې مروری توصیفي او تحلیلي کړنلارې کارول شوې دي. لومړی د خطرونو توصیف او څرنګوالی د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې بیان شوی دی. وروسته د دغو خطرونو تحلیل او شننه شوې ده. د څېړنې له لارې د اسلامي بانکوالۍ په تمویلي عقودو او قراردادونو کې د خطرونو مدیریت ته په پراخه کچه د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې کتنه شوې ده. موخه دا ده چې د خطرونو سالم مدیریت وشي، اقتصادي چارو کې مثبت بدلون او رغونه رامنځته شي، او په پایله کې د افغانستان د ټولنې اقتصادي وضعیت د پرمختګ او سمون پر لور سم کړای شي.

**د څېړنې موندنې**

***په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ تاریخچه او پېژندنه***

**د اسلامي بانکوالۍ پېژندنه او اصول.** اسلامي بانکداري؛ په بشپړه توګه د اسلامي شریعت پر اصولو ولاړ مالي سیستم دی. دا سیستم د سود (ربا) د منع ، پر روڼتیا او پر عادلانه شراکت ولاړ دی. د اسلامي بانکوالۍ اصلي موخه دا ده چې مالي تعاملات د اسلام د دین له نظره د اخلاقي او قانوني چوکاټ په حدودو کې ترسره شي. په دې سیستم کې بې له سوده د پور ترلاسی او په عوایدو او تاوانونو کې شریکېدل اساسي رول لري. اسلامي بانکونه د مختلفو مالي محصولاتو لکه د مضاربې، مشارکې، او مرابحې له لارې خدمتونه وړاندې کوي، چې ټول یې د شریعت له اصولو سره مطابقت لري. ( VisserHans, 2009 , p:27).

**په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ تاریخچه.** په افغانستان کې اسلامي بانکداری په رسمي ډول پر ۲۰۰۸ م پیل شوه، د افغانستان بانک چې د اسلامي بانکوالۍ لپاره ځانګړي مقررات او لارښوونې وړاندې کړې، د اسلامي بانکداری سیستم په تدریجي ډول وده وکړه، او د افغانستان لومړني اسلامي بانکونه لکه د افغان متحد بانک او ازاد اسلامي بانک په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ او د افغانستان اسلامي بانک په ۲۰۱٦ کې تأسیس شول. که څه هم د افغانستان په مالي سکتور کې اسلامي بانکداري نسبتاً نوی مفهوم دی، خو د سود د منع پر اساس د دې بانکداری سیستم د خلکو ترمنځ پراخ ملاتړ ترلاسه کړی، د دې ترڅنګ د افغانستان اقتصادي، ټولنیز او دیني چاپېریال هم د اسلامي بانکداری ودې ته لار

هواره کړې ده. د دې سیسټم وده په راتلونکې کې د افغانستان په مالي ټکاو(ثبات) کې مهم رول لوبولای شي. (Zulkhibri) Muhamed, 2019, P:56)

**د پانګونې د خطرونو د مدیریت مفهوم او پېژندنه.** په عمومي ډول پانګونه او استثمار له خطرونو او تاوانونو سره لاس او ګریوان وي؛ په اسلامي اقتصاد کې د ګټې او تاوان مفهوم د خطرونو د مدیریت او پېژندنې پورې تړلې مسأله ده؛ او مسلمان پانګوال باید د ګټې او تاوان توقعات ولري؛ که داسې ونشي؛ نو د سوداګرۍ او پانګونې مسائل بیا د ربا او سود چاپېریال ته داخلیږي؛ چې اسلامي اقتصاد یې په اړه هراړخیزه مبارزه او مقابله کوي؛ او مسلمان سوداګر او پانګوال ته همېشه توصیه کوي؛ چې خپل اقتصادي معاملات د ربا او سود له ګرد او غبار څخه لرې وساتي؛ په دغه مبحث کې د پانګونې د خطرونو د مدیریت لغوي، فقهي، اقتصادي مفهوم او د پانګونې یا استثمار لغوي، فقهي او اقتصادي پېژندنه اړینه ده؛ چې په لاندې مطالبو کې ورباندې بحث او شننه کېږي:

**د پانګونې د خطرونو د مدیریت لغوي، فقهي، او اقتصادي پېژندنه.** د خطر کلمه په عربې ژبه کې د قدر، منزلت او اوچتوالی او یا هم د اضطراب الحركة یعنې دحرکت کړوالې په معنا راغلې ده.( ابن فارس أبو الحسين أحمد، ۲۰۰۳، ص:۱۹۹). پورته دواړو معناوو ته په کتنې سره دا ویلای شو چې که خطر په اقتصادي چارو کې سم مدیریت شي؛ نو پانګونه او اقتصادي مسائل ورسره ځلیږي او پرمختګ کوي؛ او که سم مدیریت نشي، په اقتصادي مسائلو کې اضطراب او کړوالی راولي؛ او د پانګونې اقتصادي چارې ورسره له خطرونو او تاوانونو سره مخامخ کېږي، ویلای شو؛ چې خطر په اقتصادي پانګونو کې د اضطراب، کوږوالی، تاوان او ناسموالی په مفهوم راغلی او دغه مفهوم ته د دې لپاره ارجحیت ورکول کېږي، چې زمونږ له موضوع سره ښه اړخ لګوي ځکه چې زمونږ بحث په اسلامي اقتصادي چارو کې د خطرونو پر مدیریت راڅرخي.( محمد مرتضى الحسيني الزبيدي، ۱۹۷۲، ص:۱۹۸)

د خطرونو د مدیریت فقهي مفهوم چې د اسلامي فقهې علماوو او پوهانو وړاندې کړی له لغوي مفهوم سره کوم توپیر نلري؛ بلکې د لغوي مفهوم د لا وضاحت لپاره فقهي مفهوم د خطرونو په فقه کې کارول شوی دی؛ چې فقهاوو ورته پخپلو فقهي اقتصادي مسائلو کې د عدم تدبیر، ضیاع، ورکې، د تاوان او زیانمنونې په معنا اشاره کړې ده. امام ابن القیم(رحمه الله تعالی) وایي: ( المخاطرة مخاطرتان، مخاطرة التجارة وهو أن يشتري السلعة بقصد أن يبيعها ويتوكل على الله في ذلك والخطر الثاني: الميسر الذي يتضمن أكل أموال النّاس بالباطل)، ( شمس الدين ابن القيم،ص: ۷۸۹ ).

ژباړه: ( خطر په دوه ډوله دی: د تجارت او سوداګرۍ خطر او هغه دا چې یو توکی د خرڅلاو په نیت واخلي او موخه یې ترې ګټه وي؛ په الله توکل وکړي او بېرته یې خرڅ کړي؛ دویم خطر قمار او یا هم میسر دی؛ چې دا ډول خطر کې د خلکو د مالونو خوړل او اخیستل په باطل باندې وي؛ یعنې قمار د نامشروعو او ناجائزه اقتصادي تعاملاتو په لړ کې راځي).

که پورته تعریفونو ته دقیق نظر وشي؛ دا به جوته شي؛ چې د خطرونو سم تعریف به د تاوان د احتمال او توقع په معنا وي؛ کوم ته چې امام ابن القیم ( رحمه الله ) د تجارت او سوداګرۍ د خطرونو اصطلاح او تعبیر کارولی دی؛ د دې لپاره چې په پانګونه او سوداګرۍ کې د ګټې او تاوان احتمالات ډېر وي؛ او د سوداګرۍ او اقتصادي چارو مسائل د تاوان له خطرونو سره مخامخ وي؛ بناءً په فقهي لحاظ د خطرونو د مدیریت دا تعریف په فقهي معاملاتو کې راجح ګڼل کېږي.

په اقتصادي چارو کې د خطر مفهوم او پېژندنه هم له لغوي او فقهي مفهوم سره کوم خاص، ځانګړی توپیر نلري؛ د خطر مفهوم له اقتصادي اضطراب، ضیاع، تاوان، ورکې، خسارت، زیان او په مجموع کې د اقتصادي عائد په برخه کې تاوان کول د پانګوال لخوا چې لاندې څو تعریفونو ته یې اشاره اړینه ده.

المخاطرة: ( هي توقع اختلافات في العائد بين المخطط له والمطلوب والمتوقع حدوثه) .( سید الهواري، ۱۹۸۵م، ص: ۱۰۹)

ژباړه: ( خطر توقع د اختلاف په اقتصادي عوائدو کې د کوم لپاره چې پلان جوړ شوی؛ او کوم عائد چې د تخطیط او پلان خلاف لاس ته راځي).

المخاطرة: ( هي احتمال الفشل في تحقیق العائد المتوقع ) .( درید کامل آل شبیب، ۲۰۰۴، ص:۳٦)

ژباړه: ( د ناکامۍ د خطر احتمال په اقتصادي متوقع عائد او لاسته راوړنو کې).

المخاطرة: ( احتمالیة الخسارة من قبل المستثمر). ( سعید عبود السامرائي، ۱۹۸۰م، ص:۲۴۴)

ژباړه: ( د پانګوال لخوا د تاوان احتمال او توقع).

پورته تعریفونو ته په کتنې سره دا واضح کېږي؛ چې خطر په اقتصادي او سوداګریزو چارو کې د تاوان او زیان په مفهوم کارول شوی دی؛ او د عائداتو کمېدل له هغه څه چې ورته اقتصادي پلان جوړ شوی او ترتیب شوی وه. ( حمزة عبدالکریم حماد، ۲۰۰۸، ص:۱۴۸)

**د پانګونې یا استثمار لغوي، فقهي او اقتصادي پېژندنه.** استثمار په لغت کې د استثمر، یستثمر، له فعل څخه اخیستل شوی چې استثمار یې مصدر دی او اصل د فعل ثمر دی په معنا له یوه څیز څخه د بل څیز پیدا کېدل او یا هم د یو څیز تولید او پنځېدل له بل څیز څخه چې په پښتو ژبه کې استثمار پانګونې

ته ویل کېږي، الف، سین، ت، په عربی ژبه کې په معنا د یو څیز غوښتنې ته ویل کېږي؛ استثمار په معنا د ثمرې او یا هم تولید غوښتنې ته ویل کېږي. (ابن فارس، ص: ۳۸۸)

قال الله تعالی: ( فأخرج به من الثمرات رزقا لكم). ( سورة البقرة: ۲۲)

ژباړه: (نو الله په دې (اوبو) سره تاسو ته د رزق په توګه مېوې راوباسي).

وقال تعالی: ( انظروا إلى ثمره إذا أثمر). ( سورة الأنعام: ۹۹)

ژباړه (د هغې مېوې په لور وګورئ کله چې هغه مېوه کړي).

او د عربي ژبې په لغوي معجمونو کې راځي چې: (الاستثمار به معنى الزيادة والنماء والكثرة يقال: ثمّر ماله أي: نمّاه، وأثمر الرجل أي: كثر ماله، وثمّر الله مالك أي: كثّره. (ابن منظور، ص:۱۲۶)

ژباړه: ( استثمار په معنا د زیاتوالي، نمو، کثرت، ډېروالی راغلی دی؛ چې د مال او شتمنیو د ډېروالي مفهوم ورکوي)

د استثمار لفظ په فقهي کتابونو کې یاد شوی او که نه؟ اوسني اسلامي اقتصاد پوهان وایي چې د استثمار کلمه عصري او نوې کلمه او اصطلاح ده؛ او په لرغونو فقهي او اصولي کتابونو کې یې کومه یادونه نه ده شوې؛ خو که ځیر شو؛ دا به روښانه شي چې د استثمار اصطلاح په فقهي او اصولي کتابونو کې یاده شوې چې دلالت یې پر معنوي او مادي اقتصادي استثمار راځرخېږي؛ امام غزالي رحمه الله تعالی ویلي: (فإن الأحكام ثمرات، وكل ثمرة لها صفة وحقيقة في نفسها، ولها مثمر ومستثمر وطريق في الاستثمار. والثمرة: هي الاحكام، وطرق الاستثمار هي: وجوه دلالة الأدلة، والمستثمر هو المجتهد ). (أبو حامد محمد بن محمد الغزالي، ۱۹۷۸، ص:۲۶)

ژباړه: ( یقیناً احکام ثمرات دي او هره ثمره خپل وصف او حقیقي صفت پخپل نفس کې لري؛ چې مثمر، مستثمر، او د استثمار لارې یې ځانګړې دي، او د استثمار لارې یې د دلائلو مختلف وجوهات دي؛ او مستثمر بیا مجتهد ته ویل کېږي؛ چې په دغه دلائلو کې پانګونه، خپل کوښښ او اجتهاد کوي؛ چې د دلائلو د مختلفو لارو څخه اجتهادي احکام استنباط او استخراج کړي).

امام مرغیناني ( رحمه الله ) د اقتصادي استثمار او تولید په اړه په هدایة شرح بدایة المبتدئ کې داسې فرمایي: ( لو كان نخل أو شجر أو غنم بين اثنين فتهائيا (قلعه جي وقنيبي ، ص:۴۲۶). على أن يأخذ كل واحد منهما طائفة يستثمرها أو يرعاه لم يجز). ( أبو الحسين علي بن أبي بكر المرغيناني، ۱۹۹۵م ، ص: ۳۳۸)

ژباړه: (که د خورما باغ او یا مثمره ونې او یا هم مېږې د دوه طرفینو ترمنځ په مهایأة واخیستل شي او هر یو یې په استثمار یا پانګونې او یا هم څرولو کې اتفاق وکړي جائز نه دي)

ابن تيمية رحمه الله تعالى فرمايي: ( إكراء الشجر للاستثمار يجري مجرى إكراء الأرض لا الزرع). ( أبو العباس أحمد بن عبدالحليم ابن تيمية ، ١٣٩٨، ص:٧٣)

ژباړه: ( د ونو ورکول په کرايه د پانګونې او استثمار لپاره داسې دي لکه د ځمکې په کرايه ورکول؛ نه د کرنې لپاره)

پورته اصطلاحاتو ته په کتنې سره دا ښکاره شوه چې د استثمار لفظ او اصطلاح په فقهي او اصولي کتابونو کې د فقهاوو او اصوليونو لخوا کارول شوې ده؛چې د معنوي استثمار په معنا له شرعي دلائلو څخه د شرعي احکامو استنباط او استخراج ته ويل کيږي او يا هم مادي اقتصادي استثمار چې په اقتصادي چارو کې په د شتمنيو پانګونې ته ويل کيږي؛ د الفاظو کارونه دا را په ګوته کوي چې زمونږ فقهاوو په اسلامي اقتصادي چارو او د پانګونې پر مسائلو خورا زيات ټينګار کړی دی؛ اقتصادي چارې، خود کفايي او بساينه د اسلامي امت د پرمختګ او ترقی لپاره غوره لامل بلل کېدلای شي.

د استثمار او پانګونې اصطلاح د معاصرو اقتصاد پوهانو په څېړونو او تحقيقاتو کې په کوم مفهوم کارول شوی ده په لاندې ډول يې وضاحت کړو:

١. ( التنازل عن السيولة التى يمتلكها الفرد لفترة زمنية معينة بقصد الحصول على تدفقات مالية مستقبلية ). ( رمضان زياد، ١٩٩٨، ص:١٣)

ژباړه: ( د يوه فرد لخوا د يوه ټاکلي وخت لپاره د نغدو کارونه چې موخه يې په راتلونکې کې مالي شتمني ترلاسه کول وي)

٢. ( توظيف للنقود لأي أجل في أي أصل، أو حق ملكية او ممتلكات أو مشاركات؛ وذلك بهدف الحصول على تنمية المال تنمية مادية ربحية أو غير مادية ربحية). (سيد الهواري، ١٩٨٢، ص:١٦)

ژباړه: ( په مالي اساساتو يا د ملکيتونو او مشارکاتو په حقوقو کې د پيسو په کار اچول ؛ چې موخه ترې مالي او مادي او يا غير مادي مالي لاس ته راوړنه وي).

٣. ( الحصول على حقوق ترتبط بأصول مادية او معنوية بغية الحصول على بغية الحصول على دخل عاجل أو آجل يتلآئم مع رغبته وحاجته). ( محمد محمد سامي، ١٩٦٦، ص: ١٧)

ژباړه: ( د هغو حقوقو لاس ته راوړنه چې له مادی او معنوي اساساتو سره اړيکه لري ؛ چې موخه ترې عاجل او يا هم آجل عائد وي؛ چې د شخص له مادي او معنوي غوښتونو سره همغږي لري)

٤. (مجموع التوظيفات التي من شأنها زيادة الدخل والإضافة الحقيقية الفعلية إلى رأس المال في المستقبل القريب أو البعيد. (أحمد زكريا صيام، ١٩٩٧، ص:١٩)

ژباړه: ( مجموع د هغو کارونو چې په نتيجه کې يې اصل د مال د عائد له لوري په نژدې هم يا لرې راتلونکې کې زياتوالی مومي ).
پورته اقتصادي تعريفونو په پامنيوي دا معلومېږي چې اقتصاد پوهانو صرف د عائد په پيدا کولو ډېر بحث کړی دی؛ او د استثمار او پانګونې شرعي اړخ چې د حلالو او حرامو فلسفه لري ترې پاتې شوې دی؛ که استثمار او پانګونه د اسلامي اقتصادي نظام په رڼا کې تعريف شي؛ نو لاندې تعريف يې مصداق ګرځيدلای شي.
( توظيف المسلم ماله أو جهده في نشاط اقتصادي مشروع بهدف الحصول على نفع يعود عليه أو على غيره في الحال والمآل). ( حمزة عبدالكريم حماد، ۲۰۰۸، ص:۱۵)
ژباړه: (په يوه مشروع او حلاله اقتصادي پروژه کې د خپلې شتمنی او هڅو په کار اچونه چې ګټه يې ده او هم بل انسان ته په حال او راتلونکې کې ورسيږي)
پورتنی تعريف دوه قيده لري چې د اسلامي پانګونې لپاره خورا ارزښتمن او اړين بريښي.
استثمار او پانګونه په اقتصادي او سوداګريزه مسائلو کې د شريعت په مخالفت کې واقع نشي
او بله دا چې مستمره ګټه صرف د پانګوال لپاره نه؛ بلکې د دې لپاره هم ده چې اقتصادي او سوداګريزه چارې له رکود او جمود څخه اووځي؛ او پانګونه او استثمار په حرکت راشي؛ چې ګټه او فائده يې عموم د بشريت ته ورسېږي.

***په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو د مديريت څرنګوالی***

په پيل کې په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو څرنګوالی: که د پانګونې خطرونو ته دقيق متوجه شو؛ دابه واضح شي چې د خطرونو کيفيت او څرنګوالی مختلف ډولونه او لاملونه لري؛ چې په پانګونه کې رامنځ ته کېږي د پانګونې د خطرونو له تعريفونو څخه به معلومه شي؛ چې دغه ډول خطرونه څنګه رامنځ ته کېږي او په اسلامي بانکوالۍ کې يې د مخنيوي لارې چارې کومې دي

۱. ( عدم التأكد من انتظام العوائد والخوف من وقوع خسائر في الاستثمار). ( غازي فلاح المؤمني، ۲۰۰۲، ص:۷۸)

ژباړه: ( د منظمو عوائدو نيشت او په پانګونه کې له زيان او تاوان څخه ډار).

۲. ( احتمال فشل المستثمر في عدم تحقيق العائد المرجح أو المتوقع على الاستثمار). ( مطر محمد، ۲۰۰۴، ص:۵۲)

ژباړه: ( د عوائدو په ترلاسي کې د پانګوال احتمالي ناکامي ؛ د کوم عائد چې توقع دلودله).

۳. ( عدم التأكد من عوائد الاستثمار المستقبلية؛ ولكن معرفة احتمال تحققها). ( سليمان، ۱۹۹٦، ص:٥١)

ژباړه: ( له راتلونکو عوائدو نه ډاډ؛ ليکن د ترلاسي احتمال يې وي).

د پورتنيو تعريفونو څخه جوتيږي چې د پانگونې خطرونه ټول په دې راڅرخي چې گټه به ونشي او پروژه به زيان وکړي؛ چې د خطرونو لغوي، فقهي، او اقتصادي معناگانې هم پر همدغو احتمالاتو بحث کوي او د اقتصادي پروژو د پانگونې او استثمار د احتمالي تاوان او زيان اړخونه واضح کوي.

لغوي، فقهي او اقتصادي اصطلاحاتو ته په کتو او د خطرونو د طبيعت او څرنگوالې په پېژندلو سره ويلای شو چې: د پانگونې او استثمار خطرونه هغه لاملونه او اسباب دي چې د پانگه اچونکي او مستثمر پروژې له اقتصادي اړخه له زيان سره مخامخوي؛ او يا هم د عوائدو او گټې کچه راټيټوي. (حمزة عبدالکريم حماد، ۲۰۰۸، ص:١٦)

د اسلامي بانکوالۍ او پانگونې ځانگړنې دا دي چې د بانک او عميل ( مشتري) ترمنځ اړيکه د گټې او تاوان د مشارکت پر اساس ولاړه ده؛ فقهي قاعده يې داسې بيانوي: ( الغنم بالغرم) (گټه په تاوان) بناءً گټه او تاوان پر دواړو خواوو د عقد توزيع او ويشل کيږي؛ نه لکه څه چې په تقليدي او ربوي بانکوالۍ کې وړاندې کيږي د سود او ربا په اساس او يا هم د قمار او غرر پر بنسټ چې يو طرف د تاوان او يا هم د گټې مستحق گڼل کيږي؛ خو اسلامي بانکوالي په اوسني وضعيت کې نه غواړي چې مطلق تاوان وکړي؛ بلکې داسې عقود او قراردادونه يې غوره کړي چې هلته د تاوان او زيان سلنه ډېره کمه ده؛ له بلې خوا يې د تاوان او جبران خسارت لپاره تأميني او بيمې کڅوړې او جعبې رامنځ ته کړي؛ چې دغه تاوان او زيان پرې کنټرول کړای شي؛ دا کار د دې لامل شوی چې په اسلامي بانکوالۍ کې د استثمار سلنه ضعيفه او پيکه شي؛ له بلې خوا اسلامي بانکوالي له هغو عقودو او قراردادونو څخه تيښته کوي چې اساس يې پر مشارکت او مضاربت د مشتري او بانک ترمنځ ولاړ وي؛ ددغو عقودو که د پانگونې او استثمار پرمهال خطرونه ډېر عالی دي؛ خو بالمقابل گټه او عوائد يې هم ډېر عالي او اوچت دي. (عويضة عدنان عبدالله، ۲۰۰٦، ص:۳۲-۳۳)

په اسلامي اقتصاد، بانکوالۍ او پانگونه کې اساس او اصل دا دی چې ( الغنم بالغرم )گټه په تاوان، او بل اصل دا دی چې (الخراج بالضمان) ( د مسؤوليت منل د گټې او تاوان پر اساس) دا هغه څه دي چې هم گټه توزيع او ويشي او هم زيان او تاوان د عقد او قرارداد د طرفينو ترمنځ ويشي؛ عقل او منطق دا نه قبلوي چې د يو چا رأس المال دې هم محفوظ وي او گټه دې هم اخلي؛ او د مقابل لوری دې هم جهد او کوښښ له منځه لاړ شي او هم يې مال او شتمني؛ دا ويلای شو چې شريعت ولې د گټې او

تاوان د قبلولو فلسفه په تجارت او سوداگرۍ کې رامنځ ته کړی؛ چې د انسانانو عام مصلحت په اقتصاد او سوداگرۍ کې محفوظ او تأمین شي او څوک د چا له اړتیا او محتاجۍ څخه ناوړه ګټنه ونه کړي او هرڅه له شرعي قاعدې سره برابر شي (الخراج بالضمان) (د مسؤولیت منل د ګټې او تاوان) د فلسفې مطابق چې مال او شتمني حقیقي چلند او خوځښت ولري او د اقتصاد او سوداگرۍ حرکت ښه پرمخ ولاړ شي. (هماغه اثر، ص: ٦٦)

***په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو سرچینې***

پانګونه او استثمار په اسلامي بانکوالۍ کې له مختلفو خطرونو سره مخامخ ده؛ چې د خطرونو سرچینې په عمومي ډول پر بهرنیو او داخلي سرچینو ویشل کېږي او په لاندې مطالبو کې یې وضاحت اړین ګڼل کېږي:

***هغه خطرونه چې سرچینه یې داسلامي بانکوالۍ پیرونکي دي.*** په اسلامي بانکوالۍ او پانګونه کې اړیکه د پانګوالو او پیرودونکو ترمنځ په ګټې او تاون کې د مشارکت او ګډون پر اساس ولاړه ده دا جوتوي چې پانګوال د خطر اصلي منبع او سرچینه وګڼل شي؛ برعکس په تقلیدي او سودي بانکوالۍ کې اړیکه د پانګوالو او پیرودونکو ترمنځ د ربا او سود پر اساس ولاړه ده؛ یعنې پور په فائده؛ بانک د پور اخیستلو په حالت کې خپل عمیل او مشتري ته معینه اندازه فائده ورکوي او کله چې بیا خپلو مشتریانو ته پور ورکوي له هغوی څخه یې هم په مقابل کې معینه اندازه فائده اخلي چې دې حالت کې بیا د خطرونو کچه ټیټه وي؛ اما د اسلامي قاعدې پر اساس (الغنم بالغرم) ګټه په تاوان د مشارکت او ګډون په حالت کې د بانک او مشتري ترمنځ ګټه او تاوان دواړه شریک دي؛ چې دا حالت بیا د خطرونو اندازه زیاتوي. (محمد عبد المنعم أبو زید، ۲۰۰۳، ص:٦٢٧)

**دغه خطرونه مختلف ډولونه لري؛ چې په لاندې کرښو کې واضح کېږي:**

له پانګوال څخه سرچینه اخیستونکي خطرونه: پانګونه په اسلامي بانکوالۍ کې د ریښتینولۍ، امانت، اخلاص او د مالي التزاماتو په اداینه کې د وفادارۍ غوښتنه کوي. دا ځکه چې په اسلامي بانکدارۍ کې پانګونه د مشارکت پر اساس کېږي، چې په ګټه او تاوان کې دواړه شریک دي. د دې ډول تړونونو یوه لویه ننګونه دا ده چې د پانګوالو چلن او نیتونه هم د پانګې پایلې مخامخ اغېزمنوي. هر ډول چل، فریب یا دوکه نه یوازې د ګټې احتمال کموي بلکې د تاوان خطر زیاتوي. که پانګوال په صادقانه ډول کار ونه کړي یا مالي ژمنې په اخلاص سره ونه پالي، نو دا به په مستقیم ډول د پانګونې بریا اغېزمنه کړي. (هماغه اثر، ص: ٦٢٨- ٦٢٩ )

خو که په حقوقو او مالي التزاماتو باندې وفاء ونشي او مالي حقوق پر خپل وخت او نیته اداء نشي د پانګونې مالي خطرونه زیاتوي ددغه خطر مخنیوی په اسلامي بانکوالۍ کې په یوه میکانیزم باندې کېږي، چې د عمیل یا پیرونکي مالي سوابق وکتل شي؛ چې کومو پروژو کې یې کار کړی دی او مالي حقوق او التزامات یې پر خپل وخت او ټاکلې نیټې اداء کړي دي او که نه؛ دغه کار پوره تحلیل او شننې ته اړتیا لري او په اوس وخت کې اکثره بانکونه د خپلو مشتریانو اړوند دغسې څېړنې او پلټنې کوي چې د خپلو د پروژو د تطبیق پر مهال د خطرونه کچه راټیټه کړي او له احتمالي تاواني خطرونو څخه ځان وساتي.

۱. د اخلاقی فساد خطر: که پانګوال په اخلاقی ډول سالم نه وي، نو دا به پانګه زیانمنه کړي؛
۲. د مالي ژمنتیاوو په اداء کې ناکامي: که پانګوال د خپلې پانګې ژمنتیاوې په وخت سره پوره نکړي، دا به د تاوان خطر زیات کړي؛
۳. د صادقانه چلن نیشت: په اسلامي بانکوالۍ کې صادقانه چلن مهم دی او د دې نیشت پروژه له ستونزو سره مخ کولای؛
۴. د اداري، فني، او تخنیکي ستونزو خطر: د پانګوالو اداري، فني او تخنیکي ستونزې د پانګونې پروژو په بریا مستقیم اغېز لري. که پانګوال یا د هغه ټیم کافي فني یا تخنیکي مهارتونه ونه لري، نو دا به پانګونې ته جدي خطرونه راولاړ کړي. د دې ستونزو په موجودیت کې د اقتصادي پروژې بریا مشکوکېږي او د تاوان احتمال زیاتوي. ( محمد عبدالمنعم أبو زید، ۲۰۰۰، ص:۲۱۵)؛

۵. د ناکافي فني مهارت خطر: که پانګوال یا د هغه ټیم کافي تخنیکي مهارتونه ونه لري، پروژه ناکامېدای شي؛

٦. د اداري فساد خطر: اداري ستونزې د پروژې بریا زیانمنولای شي؛

۷. د مدیریت ناکامي: د مدیریت ضعیف کیفیت پانګه او پروژه له ستونزو سره مخ کولای شي؛

۸. د پیرونکي یا مشتري د مالي امکاناتو کمزوري: که مشتري کافي مالي امکانات ونه لري، دا به د مشارکت پر اساس اړیکه کې جدي خطرونه رامنځته کړي. په اسلامي بانکوالۍ کې چې اړیکه د مشارکت پر اساس ده، که مشتري د خپلو مالي واجباتو په اداینه کې پاتې راشي، دا به د بانک لپاره تاوان وي، خو په تقلیدي بانکونو کې اړیکه د پور ورکوونکي او پور اخیستونکي تر منځ ده او مشتري که تاوان هم وکړي، مکلف دی چې په هر صورت کې د بانک مالي حقوق اداء کړي. په اسلامي بانکوالۍ کې د مشتریانو د مالي کمزورتیا له امله بانکونه د تاوان احتمال ته زیات زیانمن کېږي. (عبدالله محمد نور علی، ۱۴۲۳، ۳۰-۳۱)

۹. د مالي وړتیاو نیشت : که مشتري کافي مالي ظرفیتونه ونه لري، د حقوقو اداینه ستونزمنېږي؛
۱۰. د پورونو ادا کولو خطر : که مشتري له تاوان سره مخ شي، د اسلامي بانک حقوق ادا کول ورته ستونزمنېږي.
۱۱. د مشارکت په تاوان کې ګډېدل : که مشارکت تاوان وکړي، دواړه مشتري او بانک د تاوان سره مخ کیږي.

د پورته ستونزو او د خطر مدیریت باید په داسې توګه وشي؛ چې بانک له عقد او قراداد څخه مخکې د عمیل یا مشتري په اړه داسې معلومات ولري؛ چې له مخې یې له مشتري سره عقد او یا هم قراداد ته وهڅوي؛ لکه د مشتري مالي امکاناتو شتون، د هغه د سوداګرۍ د سجل او ثبت اړوند معلومات، د مشتري د املاکو او عقاراتو اړوند معلومات دا ټول هغه څه دي چې پر اساس یې بانک ځانته دا معلومولای شي چې نوموړی مشتري د بانک د تعامل وړ دی که نه.

هغه خطرونه چې سرچینه یې خپله بشري ځواک وي؛ په دې معنا چې کوم عقود او معاملات په اسلامي بانکوالۍ کې د تطبیق وړ وي لکه مرابحه، مشارکه، سلم، استصناع او دې ته ورته نور عقود په اړوند یې باید د بانک بشري ځواک پوره معلومات ولري؛ چې په سوداګریز ډګر د پروژو له پیله تر پایه ښه او ګټور نتائج کې ترلاسه کړي؛ که بشري ځواک پوهه، علم، تجربه او د عقودو اړوند شرعي پوهه ونه لري؛ نو یقیناً چې د بانک پروژې له جدي ګواښونو او خطرونو سره مخ کوي په دې معنا چې دغه بشري ځواک نشي کولای ملائمه او مناسبه پروژې ډیزاین کړي او د اړونده پروژو لپاره په ښه توګه بازار موندنه وکړي او بیا مناسبه ګټه ترلاسه کړي؛ ددغه خطر د مدیریت لپاره لازمه ده؛ چې داسې پوه او په علم او تجربې سمبال بشري ځواک رامنځ ته شي؛ چې د سیمنارونو، علمي او تخصصي ورکشاپونو دې پایلې ته رسېدای شي (لجنة من الأساتذة والخبراء الاقتصاديين والشرعيين والمصرفيين، ۱۹۹۶، ص:۱۹۸)

**هغه خطرونه چې سرچینه یې بهرني لاملونه دي.** دغه خطرونه چې سرچینه یې بهرنې لاملونه دي مختلف ډولونه لري.

۱. د قوانینو، مقرراتو او بانکي طرزالعلمونو خطر: د تقلیدي او سودي بانکونو لپاره جوړ شوي قوانین او مقررات د اسلامي بانکوالۍ لپاره یوه لویه ننګونه دی. دا قوانین ځینې وختونه د اسلامي بانکوالۍ عقودو او پروژو سره په ټکر کې راځي، چې له امله یې اسلامي بانکونه اړوځی چې پر ځان نامناسب قوانین تطبیق کړي. دا وضعیت د اسلامي بانکوالۍ لپاره جدي خطرونه رامنځته کوي او د هغې د فعالیتونو اغېزمنتیا کموي. (فیاض، ۲۰۰۷، ص: ۲۷۶)

۲. ا قتصادي وضعیت او نړیوال مالي بازارونه: د نړیوال اقتصادي وضعیت او مالي بازارونو بدلونونه په مستقیم ډول د اسلامي بانکوالۍ پر چارو اغېز کوي. نړیوال اقتصادي بحرانونه، د اسعارو نوسانات، او د سودي بانکونو مالي تګلارې د اسلامي بانکوالۍ د پیاوړتیا او پایښت لپاره جدي خطرونه راولاړولای شي.

۳. سیاسي بې ثباتي او نا امني: په هغو هېوادونو کې چې سیاسي بې ثباتي او ناامني موجوده وي، اسلامي بانکونه له لویو خطرونو سره مخ وي. سیاسي بحرانونه، جګړې او ناامنۍ د بانکونو پر عملیاتو جدي اغېز لري او د پانګوالو او مشتریانو باور پر ګوښلای شي، چې په پایله کې د بانک مالي وضعیت خرابوي.

٤. اقتصادي او مالیاتي تګلارې: د حکومتونو لخوا وضع شوې اقتصادي او مالیاتي تګلارې چې د اسلامي بانکونو په اړه ځانګړې لارښوونې نه لري، د اسلامي بانکوالۍ پر فعالیتونو جدي اغېز لري. د مالیاتو سخت قوانین، د ګمرکونو لوړې تعرفې او نورې اقتصادي تګلارې د اسلامي بانکونو لپاره ستونزې رامنځته پیدا کولای شي.

۵. د سوداګرۍ او بانکدارۍ نړیوال کولو پر وړاندې خنډونه: د نړیوالې سوداګرۍ او بانکدارۍ نړیوال کولو ته خنډونه د اسلامي بانکونو لپاره یو بل بهرنی خطر دی. که اسلامي بانکونه په نړیواله کچه خپلې چارې ترسره کول وغواړي، ممکن د نړیوالو قوانین او مقرراتو سره په ټکر کې راشي، چې د هغوی پر عملیاتو منفي اغېز لري.

٦. د اسلامي بانکدارۍ د پوهاوي او قبولیت نشتوالی: په هغو هېوادونو کې چې اسلامي بانکداري نوی مفهوم دی او خلکو کې د دې بانکدارۍ سیستم په اړه کافي پوهاوی نشته، بانکونه د عامه ملاتړ د نیشت له امله له خطر سره مخ کېږي. د پوهاوي کمی د مشتریانو او پانګوالو د اعتماد نیشت او په پایله کې د پانګوونې کچه راټیټولای شي.

۷. د نړیوالې سیالۍ خطر: د اسلامي بانکونو لپاره نړیوالی سیالۍ هم یو ستر بهرنی خطر ګڼل کېږي. په نړیواله کچه د سودي بانکونو پراخ شتون او پیاوړي مالي وسایل کولای شي د اسلامي بانکونو بازار ته د ننوتلو او فعالیت په برخه کې ستونزې رامنځته کړي.

۸. د نړیوالو تنظیموونکو ادارو فشار: نړیوالې مالي تنظیموونکې ادارې، لکه د نړیوال بانک، IMF، او Basel کمیټې، چې د مالي ادارو لپاره معیارونه ټاکي، ځینې وختونه د اسلامي بانکوالۍ لپاره مناسب معیارونه نه لري. دا فشارونه اسلامي بانکونه مجبوروي چې له نړیوالو اصولو سره سم فعالیتونه ترسره کړي، چې ځینې وختونه د اسلامي بانکونو له اصلي موخو سره په ټکر کې وي.

۹. هغه خطرونه چې لامل يې شرعي رقابت، څار او پلټنه ده؛ په دې معنا چې دغه شرعي رقابت د نورو لاملونو په واسطه کمزوری کېږي او اسلامي بانکي تعاملات له جدي خطرونو او ګواښونو سره مخامخوي چې په لاندې توګه يې وضاحت کېږي.

١. د فني او فقهي متخصصو علماوو کمی: په اسلامي بانکوالۍ کې د هغو فقهاوو نيشت چې هم په فقهي علومو او هم په عصري بانکي معاملاتو کې بشپړ مهارت او پوهه ولري، يو ستر خنډ دی. دا کمبود د بانکي فعاليتونو د شرعي تصديق او قانوني چارو په اړه د ژور تحليل مخه نيسي او په نهايت کې د بانکدارۍ د عملياتو په مشروعيت کې شکونه او اندېښنې راپيدا کوي.

٢. په بانکي او اقتصادي معاملاتو کې چټک پرمختګ: د بانکي او اقتصادي معاملاتو په چټک پرمختګ سره د شرعي حکم او فتوا تطابق ټکنی شوی دی. دا حالت د دې لامل ګرځي چې فقهاوو ته وخت نه ورکوي چې د نوو او عصري معاملاتو د شرعي حيثيت په اړه ژور فکر وکړي او مناسبې فتواوې صادرې کړي. په دې توګه، بانکي معاملې د شرعي احکامو په روښانه توګه تحليل او ارزونې کې له ستونزو سره مخامخ کېږي.

٣. د بانکي مامورينو له لوري د شرعي هيئت فتواوو نه پامنيوی: په ډېرو مواردو کې، بانکي مامورين د شرعي هيئتونو د فتواوو او لارښوونو په عملي کولو کې پوره ژمنتيا نه لري. دا حالت يو ډول صوري او شکلي عمل رامنځته کوي چې بانکي معاملې له اخلاقي او شرعي اصولو څخه ليرې کوي او په پايله کې يې د معاملاتو مشروعيت له خطر سره مخ کوي.

٤. په شرعي هيئتونو باندې د بانکونو فشارونه او ننګونې: بانکونه ځينې وختونه په شرعي هيئتونو باندې فشار راوړي چې ځينې معاملې د دوئ د فرمايش مطابق تأييد کړي. په ځينو مواردو کې، بانکونه د مسألې بشپړ تصوير شرعي هيئت ته نه وړاندې کوي، چې دا کار د فتوا په صادرولو کې د نيمګړتياوو او غلطو تصوراتو لامل ګرځي، او په نهايت کې د اسلامي بانکوالۍ د فعاليتونو مشروعيت زيانمنوي.

٥. د شرعي هيئت د صلاحيتونو محدوديت: شرعي هيئت ته په ځينو مواردو کې يوازې د سوال او جواب په ډول مسايل وړاندې کېږي، چې دا حالت د هيئت صلاحيتونه محدودوي. دا ډول محدوديت د دې لامل ګرځي چې شرعي هيئت په بشپړه توګه د معاملاتو تعديل، اصلاح، ارزونه او د تطبيق لپاره اړينې پريکړې ترسره نه کړي، چې په نتيجه کې بانکي عمليات د خطرونو سره مخ کېږي.

٦. د شرعي هيئت فتواوو الزاميت: د شرعي هيئت فتواوو ته بايد په عملي چارو کې الزاميت ورکړل شي چې د پانگونې مسائل هم د تجارتي اړخ له مخې او هم د شريعت د اصولو مطابق وساتل شي. که د شرعي هيئت فتواوې په پام کې ونه نيول شي، نو پانگونه او بانکي معاملې له جدي خطرونو او گواښونو سره مخ کېږي، چې د اسلامي بانکوالۍ اعتبار او مشروعيت ته زيان رسوي. (ندوات ومؤتمرات، مجلة الاقتصاد الاسلامي، ص:۲۲)

۱. ***په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو اغېزې پر پانگونې.*** په اسلامي بانکوالۍ خطرونه خورا ناوړې اغېزې او اثرات ښندي؛ څومره چې د خطرونو اندازه او کچه لوړېږي هماغومره يې اغېزې او اثرات هم زياتيږي؛ دغه اثرات په واضح ډول د مضاربت او مشارکت په عقودو کې ښکاري چې په لاندې توگه ورته وضاحت ورکول کېږي.

۱. د اسلامي بانکوالۍ پانگوال او گډونوال د هغو عقودو څخه تيښته کوي چې مبدأ او اساس يې د مشارکت پر بنسټ پر گټه او تاوان ولاړ وي او هغو عقودو او قرادادونو ته مخه کوي چې د خطرونو کچه يې کمه وي او د گټې او فائدې ضمانت يې ډېر وي لکه د مرابحې عقد پوښتنه دا ده چې د اسلامي بانکوالۍ پانگونې په تطبيقي اړخ کې ولې اسلامي بانکونه د مرابحې عقد ته مخه کوي؛ حال دا چې امکان لري گټه او فائده يې محدوده وي؛ او بالمقابل د مضاربت، مشارکت له عقودو څخه ډډه کوي؛ سره له دې چې گټه او فائده يې ډېره ده؛ څو لاملونه لري چې په لاندې کرښوو کې يې وضاحت کېږي.

۲. د مرابحې په عقد او تړون کې د گټې اندازه او مقدار مخکې له مخکې محدده يا تعيين شوې وي؛ برعکس د مضاربت يا مشارکت د عقد او تړون پر پرتله.

۳. د مرابحې د عقد يا تړون تطبيقي اړخ اسان او پروسيجر ساده او عادي دی لکه څرنگه چې په تقليدي بانکونو د پور ورکونې پروسه پرمخ ځي او اکثره بانکي مامورين يې له پروسې او تطبيقي اړخ سره بلدتيا لري برعکس د مضاريت يا مشارکت عقد او تړون چې عملي پروسيجر او تطبيق يې خورا زياته اقتصادي تحليل، شننه او بازار موندنې ته ضرورت لري.

۴. د مرابحې د تړون چې د عميل يا مشتري په غوښتنه سرته رسيږي تطبيق يې اسان، مهالويش خورا کم، اداري او اقتصادي پروسه بې خورا ساده او اسانه ده؛ چې د ډېرو پيرودونکو او مشتريانو غوښتنې په لږ وخت کې پوره کولای شي.

۵. په اسلامي بانکوالۍ کې د مرابحې د تړون ډېروالی لامل د اسلامي بانکوالۍ کمه تجربه او بلدتیا ښودل شوې ده؛ چې ملائمت او مناسبت یې له تقلیدي بانکوالۍ سره ډېر دی. (حسن یوسف داوود، ۱۹۹۶، ص:۲۶)

٦. د خطرونو د لوړې کچې له امله د اسلامي بانکوالۍ تکیه په هغو عقودو او تړونونو باندې ډېره دی؛ چې موده او مهالویش یې کم وي دلیل یې هم دا کېدلای شي چې د یادو تړونونو د تطبیق پروسه یې اسانه او ساده ده. بله دا چې دومره زیات تجهیزاتو او اقتصادي مارکیت موندنې ته اړتیا نلري خو بالمقابل بیا هغه عقود او تړونونه چې د مشارکت او مضاربت پربنسټ په اسلامي بانکوالۍ کې د تطبیق وړ دي؛ اداري او فني پروسه یې خورا زیاته پیچلې ده ډېرو تجهیزاتو او فني کسانو ته اړتیا لري چې اقتصادي شننه او مارکیټ موندنه یې ډېر وخت نیسي له بلې خوا تطبیق او تعمیل یې هم وخت اخلي او آن دا چې خطرونه یې هم ډېر دي له بلې خوا یې بیا ګټه او فائده هم ډېره زیاته ده د اسلامي بانکوالۍ د کمې تجربې، د تجهیزاتو او فني کسانو د کمښت لامله دغسې اوږدمهالو تړونونو ته ډېره پاملرنه نه کېږي او لنډمهالیو تړونونو ته لومړیتوب ورکول کېږي؛ چې خطرونه یې کم دي فائده او ګټه یې هم تضمین شوې وي. (اشرف محمد دوابه، ۲۰۰۴، ص:۳۱)

۲. ***په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو د مخنیوي لارې چارې.*** په عمومي ډول په اسلامي بانکوالۍ او د پانګونې په تړونونو کې بېلابېل خطرونه شته لکه: د تړون د اړخونو لخوا د مالي حقوقو اداینه، په مشارکت، مضاربت او نورو عقدونو کې د پانګونې د تړونونو خطرونه، د بازار او مارکیت خطرونه، د یا نغدو پیسو خطرونه، د عوائدو د ټیټې سلنې او فائدې لاس ته راوړنې خطرونه، د وسایلو د لګښت خطرونه، قانوني او اداري خطرونه او... چې په ټوله کې بانکوالي او په تېره په افغانستان کې اسلامي بانکوالي ورسره لاس و ګریوان ده؛ په اسلامي بانکوالۍ کې د دغو خطرونو د مخنیوي لارې چارې دا دي.

۱. په افغانستان کې بانکونه په اسلامي بانکوالۍ کې باید داسې یو استثماري او د پانګونې اداري او مالي سیاست او ستراتیجي رامنځ ته کړي چې پر بنسټ یې د عائداتو توقعات ډېر شي او د خطرونو کچه را ټیټه شي بانک باید داسې یروسیجر وکاروي چې لاس یې په مشارکتي عقودو او تړونونو کې خلاص وي، چې خپل شریک دې ته اړ باسي چې خپله حصه په متنافص شرکت واخلي او په راتلونکې کې نور مشتریان هم دې ته تشویق شي چې د بانکوالۍ په بېلابېلو پروژو کې پانګونه وکړي.

۲. د یوې داسې لایحې تدوین چې له مخې یې د اسلامي بانکوالۍ د عقدونو او تړونونو د ګټې وټې کچه روښانه وي. په مضاربت او مشارکت کې د غځونې(تمدید) او ترلاسي( استرداد) شرطونه معلوم وي، خو هله چې دا ټولې چارې د شرعي پلاوي تر څار لاندې وشي.

۳. د بانک لخوا د خطرونو د تطبیق پروسه باید داسې وارزول شي، چې د عقد او تړون طرفین په ګټه کې سره شریک وي؛ چې بانک د شتمنیو په پانګونه کې د حرص او د مسؤولیت د احساس پر بنسټ خپل مسؤولیت ترسره کړي.

۴. د خطرونو د کچې د راټیټونې لپاره د داسې پلټونکي او څېړنیز ګډ کمېسیون جوړونه، چې د خطرونو د مدیریت د برخې کسان یې هم غړیتوب ولري.

۵. په بیړنیو حالاتو کې پر عوایدو د منفي اغېزو د مخنیوي او د خطرونو د کچې د راټیټونې لپاره د نقدو شتمنیو د وېش پلان.

۶. د پانګونې پر مهال د داسې وسائلو کارونه چې په مرسته یې د پانګونې رأس المال له ضایع کېدا څخه وساتل شي او شرعي مخالفتونه هم رامنځ ته نشي لکه د شرعي ضمانت اخیستل؛ چې د مالي حقوقو د ادایني پرمهال ډاډ رامنځته کړي. (البنك المركزي العراقي، ۲۰۱۸، ص:۱۳)

۷. د افغانستان په بانکونو کې د اسلامي بانکوالۍ په څانګو کې د بانک او مشتري ترمنځ باید د پوهاوي داسې لارې چارې رامنځ ته شي،چې د بازار او د نقدو پیسو په صورت کې د ګټې وېش په ربعوار یا قسطوار ډول وشي، دا چاره د مضارتب او مشارکت په تړونونو کې اغېزناکه ثابیتېدای شي او مشتري ته د بازار په مناسب قیمت د اعیانو او اجناسو ملکیت او نرخ انتقال شي.

**د څېړنې لاس ته راوړنې**

د پانګونې اغېزمنتیا : پانګونه او اقتصادي استثمار د مال د زیاتوالي او شتمنۍ د چلند سره مستقیم تړاو لري. څومره چې په بازار کې نغدې پیسې او اجناس فعال وي، د افغانستان د اقتصادي پرمختګ کچه هم لوړیږي.

۱. د خطرونو د مدیریت ارزښت: له پانګونې سره تړلي خطرونه باید په جدي توګه مدیریت شي چې د تاوان او خسارت کچه راټیټه شي. د دې لپاره، دقیق تحلیل او عملیاتي تدابیر اړین دي.

۲. د خطرونو ډولونه : په اسلامي بانکوالۍ کې، پانګونه دوه ډوله خطرونه لري: داخلي او بهرني. د دې خطرونو د مدیریت لپاره ایدځانګړې حل لارې او تدابیر ب وکارول شي.

۳. د اسلامي بانکوالۍ په نوو شرایطو کې اړتیاوې : په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ نوې مسائل او عقود باید د پخوالۍ درجې ته ورسېږي. د دې لپاره، اړتیا ده چې متخصصین او شرعي هیئتونه زیاته توجه وکړي.

۴. د عقدونو تأثیرات : د مرابحې عقد کې د خطرونو کچه کمه، خو فائده هم لږه ده. په مقابل کې د مضاربت او مشارکت عقودو د فائدې کچه لوړه، خو خطرونه یې هم زیات دي. یادو شویو مشارکتي عقودو ته باید د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ، تمویل او پانګونه کې خاصه پاملرنه وشي چې په هېواد کې اقتصادي رغونه رامنځ ته شي.

**څېړنپایلې**

د دغې څېړنې ځینې مهمې پایلې او نتائج په لاندې ډول دي:

۱. پانګونه او استثمار د مال په زیاتوالي کې بنسټيي رول لري. څومره چې نغدې پیسې او اجناسو شتمنۍ په بازار کې ګرځي، د اقتصادي پیاوړتیا کچه هم په هماغه اندازه ورسره لوړیږي.

۲. پانګونه یو لړ خطرونه لري. د پانګونې په بهیر کې د دې خطرونو دقیق مدیریت د تاوان د کمولو لپاره اړین دی.

۳. په اسلامي بانکوالۍ کې د پانګونې پر مهال دوه اساسي خطرونه شته: داخلي او بهرني. په دې څېړنه کې د هر خطر لپاره د حل لارې چارې وړاندې شوي دي.

٤. په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ مسائل او عقود نوي دي او تر اوسه د پخوالۍ کچې ته نه دي رسېدلي. د دې لپاره اړتیا ده چې متخصصین او شرعي هیئتونه په دې برخه کې زیاتې هڅې وکړي، چې د پانګونې په شرعي او قانوني چوکاټ کې سمون راولي.

۵. د مرابحې عقد کې د خطرونو کچه نسبتاً کمه ده، ځکه چې دغه عقد په اسلامي بانکوالۍ کې په پراخه کچه تطبیقېږي، خو د فائدې کچه یې هم ټیټه ده.

٦. د مضاربت او مشارکت عقودو کې د خطرونو کچه لوړه ده، لکه د مالي حقوقو نه اداینه او له طبیعي ناورینونو سره مخامخېدنه، خو بیا هم د دې عقودو له لارې د فائدې کچه د مرابحې په پرتله لوړه وي.

۷. د صکوکو عقد په لویو پروژو کې د نغدو پیسو زیاتوالی او د مشارکت په اساس د خلکو او حکومت ترمنځ پانګونې ګډون زیاتوي، چې په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګ لپاره ګټور دی.

۸. په افغانستان کې په زراعتي سکتور د پانگونې لپاره د بیع السلم عقد گټور دی، چې د زراعتي توکو تولید زیاتوي او د محصولاتو د صادرونې زمینه برابروي.

۹. په ودانیزو چارو کې د اجارې او مشارکت متناقصې عقودو کارول د ساختماني تجهیزاتو او کاري فرصتونو لپاره مثبت بدلونونه راولي، او د خلکو د ملکیتونو د خوندیتوب لامل کېږي.

۱۰. که د پانگونې پرمهال د دې څېړنې ټول وړاندې شوي ضوابط او لارښوونې په پام کې ونیول شي، نو د پانگونې زیاتوالی، د خطرونو کمښت، او مناسبه گټه ترلاسه کول به یقیني شي.

**د څېړنې وړاندیزونه**

**۱.** مسلمانان باید په پانگونه او اقتصادي پروژو کې له اسلامي او شرعي احکامو سره سم عمل وکړي، چې د شرعي اصولو سره همغږې پانگونه یقیني شي.

۲. د شریعت احکامو پر بنسټ، باید د هرې اقتصادي ستونزې د حل لپاره اسلامي تمویل او پانگونې لارې چارې وپلټل شي.

۳. که د اقتصادي اسلامي بانکوالی په سیستم کې د مشارکتي عقودو څخه گټه واخیستل شي، نو د عایداتو زیاتوالی یقیني دی.

۴ .د خطرونو اغېزمن مدیریت لپاره په اسلامي بانکوالی کې د اقتصادي او شرعي متخصصینو حضور حتمي دی، چې له شرعي احکامو سره سمې او معیارې مشورې ورکړي.

۵ .د بازار او مارکیت اړتیاوې باید په دوراني توگه تحلیل او وڅېړل شي، چې اسلامي بانکوالی له هرې اقتصادي ننگونې سره اغېزمنه مقابله وکړای شي.

## سرچيني

ابن‌القيم، ش. (بدون تاريخ) .زاد المعاد في هدي خير العباد (تحقيق: عماد البارودي). المكتبة الوقفية.

ابن‌تيمية، أ. (١٣٩٨ هـ). مجموع الفتاوى )الطبعة الثانية، جمع وترتيب: عبدالرحمن قاسم.(

أبوزيد، م. (٢٠٠٠م). نحو تطوير نظام المضاربة في المصارف الاسلامية (الطبعة الأولى). القاهرة: المعهد العالمي للفكر الاسلامي.

أبوزيد، م. (٢٠٠٣م). المخاطر التي تواجهها المصارف الاسلامية في الاستثمارات .جامعة الشارقة.

أبو صبحا، س. (١٩٩٦م). الادارة المالية (الطبعة الأولى). منشورات جامعة القدس المفتوحة.

آل‌شبيب، د. (٢٠٠٤). (مبادئ الادارة العامة (الطبعة الأولى). عمان، الأردن: دار المناهج.

البنک، ا. (٢٠١٨م). ضوابط ادارة المخاطر في المصارف الاسلامية .دائرة مراقبة الصيرفة، قسم مراقبة المصارف الاسلامية.

حسن محمود، م. (١٤٣٦ هـ). الهندسة المالية و دورها في ادارة المصارف الاسلامية .مجلة العلوم الانسانية والاجتماعية، كلية العلوم والآداب بطبرجل، جامعة الجوف، الأردن.

حمادحمزة، ع. (٢٠٠٨م). مخاطر الاستثمار في المصارف الاسلامية )بدون طبعة وتاريخ.(

داود، ح. (١٩٩٦). (الاستثمار القصير الأجل في المصارف الاسلامية (الطبعة الأولى). القاهرة: المعهد العالمي للفكر الاسلامي.

دوأبه، ا. (٢٠٠٤م). صناديق الاستثمار بين النظرية والتطبيق في المصارف الاسلامية (الطبعة الأولى). مصر: دارالسلام، المعهد العالمي للفكر الاسلامي.

رمضان، ز. (١٩٩٨م). مبادئ الاستثمار الحقيقي والمالي (الطبعة الأولى). عمان: دار وائل.

الزبيدي، م . (١٩٧٢). (تاج العروس من جواهر القاموس (الطبعة الأولى، تحقيق: ابراهيم الترزي). مطبعة حكومة الكويت.

السامرائي، س. (١٩٨٠م). القاموس الاقتصادي الحديث (الطبعة الأولى). بغداد: مطبعة المعارف.

صحراوي، م. التمويل برأس المال المخاطر من منظور اسلامي .جامعة الجزائر: مؤتمر المصارف الاسلامية بين الواقع والمأمول بدبى الامارات العربية المتحدة.

صيام، أ. (١٩٩٧م). مبادئ الاستثمار (الطبعة الأولى). عمان: دار المناهج.

عبدالله، م. (١٤٢٣). (تحليل مخاطر الاستثمار في المصارف الاسلامية بين النظرية والتطبيق (بدون طبعة). مكه المكرمة: رابطة العالم الاسلامي، المجلة الفقهية، عدد) ١٩٥.(

علي، أ. (٢٠١٠م). مخاطر التمويل الاسلامي .جامعة قطر.

عويضة، ع. (٢٠٠٦م). نظرية المخاطرة في الاقتصاد الاسلامي (رسالة تأصيلية تطبيقية، رسالة دكتوراه). جامعة اليرموک، اربد، عمان.

الغزالي، أ. (١٩٨٧). (المستصفى من علم الأصول (تحقيق وتعليق: محمد الأشقر). مؤسسة الرسالة، بيروت، لبنان.

ابن‌الفارس، أ. (بدون تاريخ). معجم مقاييس اللغة (تحقيق وضبط: عبدالسلام هارون). دار الفكر، بيروت، لبنان.

لجنة من الأساتذة والخبراء الاقتصاديين والشرعيين والمصرفيين. (١٩٩٦م) .تقويم الجوانب الادارية بالبنوک الاسلامية (الطبعة الأولى). القاهرة: المعهد العالمي للفكر الاسلامي.

مجلة موسوعة التمويل والاقتصاد الاسلامي .(١٤٣١). (السنة الأولى، العدد الأول.

محمد، م. (١٩٦٦م). مبادئ الاستثمار. المطبعة السلفية.

المرغيناني، أ. (١٩٩٥م). الهداية في شرح بداية المبتدئ (الطبعة الأولى، اعتنى بتصحيحه: طلال بن يوسف). دار احياء الترث العربي، بيروت، لبنان.

مطر، م. (٢٠٠٤م). ادارة الاستثمارات، الاطار النظري والعمليات التطبيقية (الطبعة الثالثة). دار وائل، عمان، الأردن.

معطى، ل. (٢٠١٤) .(مخاطر صيغ التمويل الاسلامي، وتأثيرها على الاستقرار المالي للبنوک الاسلامية .جامعة محمد بن أحمد وهران.

المؤمني، غ. (۲۰۰۲م). ادارة المحافظ الاستثمارية (الطبعة الأولى). عمان: دار المناهج.
ندوات ومؤتمرات. (بدون تاريخ). المؤتمر الثاني للرقابة الشرعية. مجلة الاقتصاد الاسلامي، العدد) ۲۶۰-۲۶۱
الهواري، س. (۱۹۸۵م). الادارة المالية، الاستثمار والتمويل طويل الأجل (الجزء الأول). دار الجيل للطباعة، مصر.
الهواري، س. (۱۹۸۲م). الموسوعة العلمية والعلمية للبنوك الاسلامية – الاستثمار (بدون (ط – ت) مصر). الاتحاد الدولي للبنوك الاسلامية.

Islamic Banking in Afghanistan. (2012). Da Afghanistan Bank (Central Bank of Afghanistan) Publications.

Visser, H. (2009). Islamic Finance: Principles and Practice. Edward Elgar Publishing.

Wahid, I., & Abduh, M. (2013). Risk Management for Islamic Banks. Wiley.

Zulkhibri, M., & Ismail, A. G. (2019). Islamic Financial Risk Management: Global Perspectives. Springer.